PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادهٔ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

۹۶۴

یولسم کال - دویمه دوره، ۹٦٤ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۳۱ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د مرغومې ۲۹ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق صفرالمظفر ۱٤ مه د ۲۰۱۱ د جنوری ۱۹ مه

د ارغنداب اوسېدونکي:

له موږ سره چا مرسته نه ده کړې!

تېره اوونۍ د کندهار چارواکو د ولسمشر په حکم په کندهار کې د امید په عملیاتو کې خلکو ته د اوښتي زیان د معلومولو لپاره د راغلي پلاوي رپوټ د مبالغې ډک وباله او ورسره په څنگ کې یې وویل، چې ایتلافي ځواکونو زیانمنو شویو کسانو ته تاوان ورکړی، خو د کندهار د ارغنداب ولسوالۍ په لسگونه ولسي خلکو په کندهار پریس کلب کې وویل، چې دوی ته تر اوسه د اوښتي زیان تاوان نه دی ورکول شوی. ۳مخ

افغان سوداگرو له ایران سره پر سوداگریزو راکړو ورکړو بندیز ولگاوه



د افغانستان سوداگرو پرون ژمنه وکړه چې تر هغو به له ایران سره سوداگري راکړه ورکړه نه کوي چې ایران د افغانستان د سوداگرو د تېلو ټانکرونه نه وي پرې ایښي چې افغانستان ته واوړي.

د افغانستان د سوداگرۍ خونې پرون یو پرېکړه لیک خپور کړ. په دې پرېکړه لیک کې د ایران له لوري پر افغانستان لگول شوی بندیز غندل شوی دی.

د ایران له لوري له نژدې یوې نیمې میاشتې راهیسې د شاوخوا دوو زرو ټانکرونو درولو په افغانستان کې د تېلو بیه په سلو کې لږ ترلږه څلوېښت لوړه کړې او ورسره په یووخت د نورو اړتیا وړ لومړنیو موادو بیې ختلې دي. ایراني چارواکي، چې په پیل کې یې ویلي وو دا ټانکرونه یې د دې لپاره درولي چې ناټو ځواکونو ته یې تېل وړل، اوس ادعا کوي چې د ټانکرونو مخه یې نه ده نیولې او هره ورځ د هرات، فراه او نیمروز له لارو افغانستان ته د تېلو څلوېښت ټانکرونه انتقالېږي.

د تایباد مرستیال ولسوال محمد عارف عارفي وویل چې افغانستان ته تېل بې له کوم مشکله روان دي. خو که بیا هم دې هیواد ته تېل نه رسېږي دا بیا د افغانستان د حکومت ستونزه ده.

ده همداراز وویل چې د روان ۱۳۸۹ لمریز کال له پیله تراوسه پورې افغانستان ته د ایران له لارې د تېلو ۷۰۲۴ ټانکرونه اوښتي او ۱۶۸ اعشاریه ۵ میلیون لیتره تېل یې لېږدولي دي. ۳مخ

مذاکرات سنگین برای کرزی و مدودیف در مسکو

دفتر مطبوعاتی قصر کرملین روز گذشته اعلام کرد، رییس جمهور افغانستان روز پنجشنبه برای انجام دیدار رسمی دو روزه به مسکو سفر می کند.

قابل یادآوری است که این چهارمین سفر رییس جمهور کرزی به مسکو است. قاچاق مواد مخدر از افغانستان به روسیه، وضعیت همکاری های مسکو و کابل در زمینه های اقتصادی، اجتماعی، نظامی و آخرین نگاه به امنیت و ثبات در افغانستان، می تواند بخشی از مذاکرات حامد کرزی و دمیتری مدودیف سران دو کشور در کاخ کرملین باشد که از روز پنجشنبه آغاز می شود.

این دیدار به دعوت 'دمیتری مدودیف' رییس جمهور روسیه صورت می گیرد که در این برنامه همکاری های دوکشور مورد گفتگو قرار خواهد گرفت.

روسیه در یک دههٔ اخیر با افغانستان همکاری های گسترده یی داشته و کمک های نظامی و تدارکاتی نیز، به ارزش حدود ۵۰ میلیون دالر به کابل داده است.

آخرین کمک نظامی روسیه به افغانستان شامل ۲۰ هزار قبضه اسلحهٔ کلاشینکوف و لوازم جانبی بود که ماه گذشته به وزارت امور داخلهٔ افغانستان سپرده شد.

مسکو همچنین به امریکا اجازه داده است، محمولات نظامی خود را از طریق خاک روسیه به افغانستان ترانزیت کند.

در همین حال، مسکو بارها به افزایش قاچاق مواد مخدر از افغانستان به روسیه اعتراض کرده و امریکا و ناتو را مسوول بروز این وضعیت خوانده است که به مبارزه با مواد مخدر نمی پردازند، این در حالی است که رسانه ها دو ماه قبل گزارشی را به نشر سپردند که نیروهای روسی در هماهنگی با نیروهای ایتلاف یک عملیات نظامی را در از بین بردن کارخانه های مواد مخدر در ولسوالی شینوار ولایت ننگرهار به راه انداخت که با واکنش جدی مقام های افغان رو به رو شد.

این عملیات که در ناخبری جانب افغانی انجام شده بود، از سوی مقام های افغان نقض تمامیت ارضی افغانستان توسط نیروهای روسی خوانده شد. اما زمانی که فشارهای مقام های امریکا بر کرزی بیشتر گردید، کرزی دوباره به روسیه روآورده و وی در دیدار با مددوف رییس جمهور روسیه در حاشیهٔ اجلاس لیزبون، دعوت رییس جمهور روسیه را در ارتباط سفر به مسکو پذیرفت.

د کندهار د قومي مشرانو غوښتنه:

د هلمند د سیند اوبه دې په ایران بندې شي

وروسته له هغه چې ایراني چارواکو د تېرې یوې میاشتې را په دې خوا تر دوه زره زیات د تیلو ډک ټانکرونه په خپله خاوره کې ایسار کړي او اجازه نه ورکوي، چې افغانستان ته داخل شي د کندهار ولایتي شورا او قومي مشرانو په یوه غونډه کې د ایراني چارواکو دا کار په سختو ټیکو وغانده او له افغان حکومت څخه یې وغوښتل، ۳مخ



از دومین سالروز تاسیس مرکز رسانه های حکومت تجلیل به عمل آمد

رییس مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت، در دومین سالروز تاسیس این مرکز، پذیرفت که هنوز هم ژورنالیستان در تهیهٔ معلومات خبری، با مشکلات رو به رو هستند. حکیم عاشر که دیروز در محفل تجلیل از دومین سالروز مرکز اطلاعات و رسانه ها صحبت می کرد، گفت که این مرکز، سهولت های زیادی را در زمینهٔ اطلاع رسانی میان دولت، مردم و رسانه ها ایجاد کرده است. وی افزود: "ما در این دوسال، تلاش کردیم که برای رسانه ها در زمینهٔ دسترسی شان به منابع دولتی، سهولت ها را فراهم نماییم." اما عاشر، همچنان پذیرفت که هنوز هم ژورنالیستان، در اخذ معلومات از منابع، بامشکلات رو به رو می باشند. وی افزود که به منظور رفع این مشکلات، مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت، در سال سوم در این مورد تلاش خواهد کرد. عاشر در نشست دیروزی، از فعالیت بعضی رسانه ها انتقاد نمود و گفت که در نشرات خود، توازن و منافع ملی را در نظر نمی گیرند. اما وی از کدام رسانه یی، نام نبرد. در محفل دیروزی، سید مخدوم رهین وزیر اطلاعات و فرهنگ، از خدمات مرکز رسانه ها ستایش کرد و گفت: "این وزارت از افزایش هرنوع نهاد یا سازمانی که منجر به تقویت اطلاع رسانی شود، استقبال می کند." رهین افزود که ایجاد مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت، درعرصهٔ تقویت ص۳

اعلان فاتحه

الحاج سید جعفر سادات مدیر عمومی اعتبارات در د افغانستان بانک پسر، داکتر سید رحم الدین سادات برادر، سید نوراحمد سادات کارمند موسسهٔ DIA در جلال آباد و سید فرهاد سادات برادرزاده ها، خارنوال سید میر هاشم سادات، سید رحمت سادات، الحاج سید احمد شاه سادات، سید جمال الدین سادات، سید عمر سادات، میر سید میرزی استاد تخنیک ثانوی، سید رحمن سادات، الحاج داکتر سید عباس سادات، الحاج انجنیر سید الیاس سادات تاجر در مسکین یار مارکیت، سید نجیب جلال کارمند موسسهٔ USAID و سید شعیب سادات پسران کاکا و الحاج شیرعلم داماد.

نسبت وفات مرحوم الحاج انجنیر سید سرور سادات که جنازهٔ قبلا در ولسوالی سرخ رود در حضیرهٔ آبایی شان به خاک سپرده شده است، به اطلاع دوستان رسانده می شود که فاتحهٔ مردانه امروز چهارشنبهٔ مورخ ۲۹ جدی ۱۳۸۹ در مسجد جامع حضرت نعمان بن ثابت واقع مارکیت مکروریان سوم از ساعت (۱:۳۰) یک و نیم الی (۳:۳۰) سه و نیم بجه بعد ظهر و فاتحهٔ زنانه در سالون مکروریان سوم گرفته می شود. دوستان مطلع باشند.



له افغانستان سره د اسیایي پراختیایي بانک د مرستې برخلیک به څه وي؟ ۲

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

باج گیری سیاسی ایران از همسایه و هم کیش

سرانجام دولت خودکامهٔ ایران چهرهٔ مغرضانه و کینه توزانهٔ خویش را در قبال حسن نیت و روش مسالمت آمیز مردم افغانستان برملا ساخت.

با وجودی که دولتمردان ایران هر کدام خود را تیکه داران اسلام قلمداد می نمایند و در خطابه ها و ارشادات خویش از نصوص قرآن و احادیث نبوی و اقوال خلفای راشدین سخن به میان می آورند، ولی با تأسف عمیق که اعمال شان مزورانه بوده و مانند شیادانی عمل می کنند که هر آن در پی تزویر و ترفند هستند. صرفنظر از هم مذهبی، هم کیشی و هم لسانی، متاسفانه عملکرد شان با موازین انسانی همگرایی ندارد؛ حتا برخوردهای سیاسی شان مغایر نورم های دیپلوماتیک و مخالف موازین روابط بین الدول است.

بیش از دو ماه می شود که حکام مستبد ایران در حدود دو هزار تانکر مواد سوخت مردم مستضعف افغانستان را که در این سرمای شدید زمستان با گرانی تیل دست و گریبان هستند، بدون موجب امر توقف داده اند.

با وجودی که زمامداران کذاب ایران به هیأت بلند پایه دولتی افغانستان که به منظور حل این معضله در ماه دسمبر سال گذشتهٔ میلادی عازم تهران شده بودند، وعده سپردند که به دریوران تانکرهای مواد سوخت مربوط افغانستان اجازهٔ خروج از خاک ایران را داده و به رفع این معضل اقدام جدی می نمایند، ولی دلالان سیاسی دو رو نه تنها به وعدهٔ خود وفا نکردند، بلکه خلاف پرنسیب های دیپلوماتیک سفیر ایران مقیم کابل از وزارت خارجهٔ افغانستان تقاضا به عمل آورد، تا تظاهر کننده گان افغان را که به خاطر بی پرنسیبی دولت ایران به راهپیمایی مبادرت ورزیده بودند، شناسایی و مجازات نمایند.

گذشته از این بدعت سیاسی، وزارت خارجهٔ ایران، سفیر افغانستان مقیم تهران را احضار و اعتراضات دولت ایران را مبنی بر راهپیمایی های افغان ها به وی تسلیم نمود.

دولت افغانستان علی رغم تخطی ها، تخلفات، تعدی ها و وعده شکنی های دولت ایران، تا حال یک بارهم، سفیر ایران مقیم کابل را احضار ننموده و این همه شکایات را برایش گوشزد نکرده است.

دولت خودکامهٔ ایران به تقاضاهای مکرر دولت افغانستان و تمناهای عاجزانهٔ مردم این کشور وقعی نگذاشته و کماکان به ظلم و تعدی خود در مقابل جان و مال افغان ها ادامه می دهد.

با تاسف فراوان باید متذکر شد که نه عملکرد مستبدانهٔ آخندهای ایران مطابق به اساسات دین مبین اسلام است، نه برخورد سیاسی مقام های ایرانی مطابق به پرنسیب های دیپلوماتیک استوار است و نه پالیسی حکومت ایران مطابق به قوانین بین الدول برابر است.

مردم افغانستان از دولت ایران که یک همسایهٔ هم کیش و هم لسان است، توقعات بیشتری دارند.

عبور چند عراده تانکر تیل از مرز یک کشور، یک موضوع عادی و پیش پا افتاده است، چه رسد به روزی که مردم افغانستان تقاضای خرید تیل و سایر مواد مورد ضرورت خویش را از کشور ایران نمایند، در آنصورت با چه عکس العمل های منفی و ناروا ی آنها مواجه خواهند شد.

بنابراقدام ناجوانمردانهٔ مقام های ایرانی در قبال مردم افغانستان، تاجران افغان سر از دیروز تصمیم اتخاذ نمودند، تا مراودات تجارتی خود را با کشور ایران قطع نمایند و مردم نیز، به عکس العمل مشابهی دست زده و تصمیم گرفتند که بعد از این از مواد توریدی ایران استفاده نکنند، تا دولت ایران نیز، متحمل خسارات اقتصادی گردد.

در شرایط فعلی که مردم افغانستان با مشکل اقتصادی مواجه اند، ایجاب می نمود، تا دولت جمهوری اسلامی ایران دست ترحم و شفقت به سوی مردم این کشور دراز نموده و از هیچ نوع همدردی و همنوایی دریغ نورزد، شاید روزی فرا برسد که مردم ایران نیز، به کمک افغان ها ضرورت پیدا نموده و از مردم افغانستان طلب استعانت نمایند؛ در آنوقت مردم با احساس و قدردان افغانستان، حسن نیت و احساس نیک دولت و مردم ایران را فراموش نکرده و از هیچ گونه بذل مساعی مضایقه نخواهند کرد.

له افغانستان سره د اسیايي پراختيايي بانک د مرستې برخليک به څه وي؟

میوند



سره له دې چې امريکا، نړيوالې ټولې او نورو مرسته کوونکو هېوادونو له افغانستان سره په ميليونونو او ان ميليارډونو ډالره مرسته کړې او لا هم مرستې کوي، خو دغه ټولې مرستې له هماغه لومړيو وختونو تر اوسه پورې په سمه توګه نه دي لګول شوي او نه هم په سمه توګه لګول کېږي. دغه مرستې تر ډېره په دې هېواد کې د فساد او د فساد د مافيا قرباني شوي او کېږي. که موږ له هماغو لومړيو وختونو څخه چې له افغانستان سره د بېلابېلو مرسته کوونکو هېوادونو مرستې پيل شوي، د حقيقت له نظره وګورو، نو ويلای شو، چې د دغو ټولو مرستو زياته برخه د داداري فساد د مافيايي ډلې لاسته لوېدلې او تر ډېره بريده يې افغان دولت او په تېره بيا افغان ولس ته ګټه نه ده رسېدلې. بايد ووايو، چې له افغانستان سره په دې څو وروستيو کلونو يانې د ښاغلي کرزي په دواړو دورو کې دومره مرسته شوې، چې که په سمه او مناسبه توګه لګول شوې وای، نو د کلونو کلونو لپاره يې د افغانستان د هر وګړي د ژوندانه اسانتياوې په سمه توګه برابرولای شوای او ورسره تر ډېره د هېواد پرمختيايي چارې او د بيا رغونې کارونه هم سرته رسېدلای شوای، خو له بده مرغه چې دا مرستې يوازې د ځينو کسانو جېبونو ته ورسېدلې او هغوی هم ښه په نره پرې په داخل او بهر کې لوکسې ماڼۍ، بېلډېنګونه او پانګونې وکړې او افغان ولس سپېړې خولې او وچې شونډې پاته شو. په هر حال خبرې ډېرې دي او د دې مرستو په هکله ډېر څه شته، چې د ويلو او پلټلو غوښتنه کوي، خو موږ به تېر ته په کتو د ووايو چې اوسمهال د اسيا پراختيايي بانک په يوه نوي اقدام کې په افغانستان کې د درو نورو پروژو لپاره مالي امکانات برابرول غواړي.

د دغو مرستو ټرونونه، چې ټول ارزښت يې ۳۵۴ ميليونو ډالرو ته رسېږي، د سې شنبې پر ورځ د افغانستان د مالېې وزير او د اسيا د پراختيايي بانک د رييس له خوا په کابل کې لاسليک شو.

د مالېې وزير ډاکتر عمر زاخېلوال د دغه ټرون تر لاسليک وروسته خبريالانو ته وويل، چې د دغو پيسو ډېره برخه به د حلقوي سړک پر بشپړولو ولګول شي، چې بلخ به له هرات سره وتړي.

د ښاغلي زاخېلوال په خبره، شاوخوا ۲۴۰ کيلومتره سړک کار پاتې دی او له دغو پيسو څخه په ګټه به په راتلوونکو دوو کلونو کې بشپړ شي: "نن ورځ موږ دې مهم ټرونونه لاسليکوو، لومړی ټرون ۳۴۰ ميليونه امريکايي ډالره ارزښت لري او د اسيا د پراختيايي بانک له بلاعوضو مرستو څخه دی، چې دا به د يوې ډېرې مهمې پروژې، چې حلقوي سړک دی پر جوړولو ولګول شي، څنګه چې په جريان کې ياست د دغه سړک لويه برخه بشپړه شوې ده."

د مالېې وزير د معلوماتو له مخې دويمه پروژه، چې ۱۲ ميليونه ډالره ارزښت لري، له تاجکستان څخه د افغانستان بغلان ولايت ته ۶۰۰ ميګاواټه برېښنا ورکول دي.

ښاغلي زاخېلوال همدارنګه وويل، چې د رېيم ټرون د جاپان له خواوړيا ۱,۵ ميليونو ډالر مرسته ده، چې د افغانستان د برېښنا د برخې لپاره به د اسيا د پراختيايي بانک له خوا ولګول شي.

په همدې حال کې د افغانستان لپاره د اسيا د پراختيايي بانک رييس رابرت ګوردن رنکر د خپلو مرستو په دوام د ټينګار ترڅنګ وويل، چې په دغو مرستو سره به سيمه ييزې همکارۍ او خصوصي پانګونې ته ښې زمينې برابرې شي:

"دغه ټرونونه، چې موږ نن لاسليک کړل، دا به د سيمه ييزې همکارۍ پر پياوړي کولو، دانرژۍ، سوداګرۍ او په دغه هېواد کې د خصوصي پانګونې ښې زمينې برابرې کړي.

د دغو پروژو په بشپړېدو سره به په افغانستان کې اقتصادي فعاليتونه غښتلي او د لوړي په کمولو کې به مرسته وکړي."

د اسيا پراختيايي بانک له افغانستان سره څلورمه لويه مرسته کوونکې اداره ده، چې مرستې يې هم د افغان دولت د بودجې له لارې لګول کېږي.

د افغانستان د مالېې وزارت د معلوماتو له مخې د اسيا پراخيتايي بانک له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۳ پورې له افغانستان سره د ۳ ميليارډو ډالرو ژمنه کړې، چې لويه برخه يې ورکړل شوې ده

پورته يادونو ته په کتو سره بايد ووايو، چې ايا په رښتيا به هم دا مرستې پر يادو پروژو ولګېږي او ايا د چارواکو دا ژمنې به هم پلې او پوره شي که نه، ځکه له افغان ولس سره ډېرې ژمنې شوي، خو تر ډېره يې د عمل جامه نه اغوستې، نو دا چې ايا دا مرستې بهٔ په رښتيا هم ټولې پر يادو پروژو ولګېږي او که به د تېرو په څېر د فساد قرباني شي، دا هغه څه دي، چې د يادو پروژو د لګښت د کچې د معلومولو پر بنسټ به د دغو پروژلو له بشپړولو سره سم به يې پته لګي.

چه وقت می خواهید، به بازی انتخابات خاتمه دهید؟

قضیهٔ انتخابات که باید مشکل گشای برخی از گره های کور اجتماعی و سیاسی و پرکنندهٔ خلای قانونی در کشور می شد، برعکس خود به یک گرهٔ کور و مشکل قانونی تبدیل شده، مشکلی که افغانستان ناآرام را با یک بحران عمیق داخلی رو به رو کرده است.

روند اوضاع در افغانستان به گونه یی است که هر واقعه و پیشامدی نه تنها در حل مشکلات و نگرانی های مردم کشور کمک نمی کند، بلکه خود این رویداد به صورت اتومات به یک مسألهٔ بحران زا تبدیل می شود.

به طور مثال، افزایش نیروهای نظامی خارجی و تلاش های جامعهٔ بین المللی برای سرکوب طالبان برخلاف انتظار، افزایش خشونت ها و توسعهٔ جغرافیای جنگ را به دنبال داشت و تاکنون هم وضعیت به همین منوال است؛ به طوری که در بدل هر سرباز تازه نفس امریکایی که وارد افغانستان می شود، یک جنگجوی مخالف در صفوف مخالفان زیادتر می گردد.

تجربهٔ چند سال جنگ در افغانستان نشان داده است که هر فرد مسلح مخالف تاکنون توانسته است، در برابر ۲۰ تن از سربازان ناتو بجنگد، این موضوع یک قاعدهٔ تعریف نشده و منحصر به فرد در جنگ افغانستان در سال های اخیر بوده و تا کنون کوچکترین تغییری در این قاعده به وجود نیامده است.

همچنین کمک های چندین میلیارد دالری جامعهٔ جهانی به افغانستان به جای آنکه رشد و شگوفایی اقتصاد ورشکستهٔ افغانستان و از بین رفتن فقر را به دنبال داشته باشد، پیامدهای برعکسی داشته و باعث فقر فزاینده و فساد اداری گردیده است.

انتخابات و مظاهر دموکراسی نیز، متاسفانه در کشور ما به همین سرنوشت دچار شده است.

از برگزاری انتخابات پارلمانی ۲۷ سنبله تا کنون چهار ماه سپری شده است، اما تا به حال از سرنوشت پارلمانی که علی القاعده باید تشکیل می شد، خبری نیست.

قضیهٔ انتخابات که باید مشکل گشای برخی از گره های کور اجتماعی و سیاسی و پرکنندهٔ خلای قانونی در کشور می شد، برعکس خود به یک گرهٔ کور و مشکل قانونی تبدیل شده، مشکلی که افغانستان ناآرام را با یک بحران عمیق داخلی، رو به رو کرده است.

در کشوری که در حال جنگ است، در کشوری که حدود ۱۵۰ هزار سرباز خارجی حضور دارند و بخشی از جمعیت افغانستان این سربازان را نیروی اشغالگر می دانند، در کشوری که مردم تذکرهٔ تابعیت استندرد ندارند، در کشوری که ۷۰ درصد از کل جمعیت آن هنوز بی سواد هستند و بالاخره در کشوری که به دلیل شدت فقر و ناآگاهی مردم هر برگهٔ رای دهی با یک دالر و حتا با یک وعدهٔ غذا خرید و فروش می شود، چگونه می توان انتظار داشت که انتخابات آزاد، عادلانه، شفاف و دموکراتیک برگزار شود؟؟؟

نکتهٔ دیگر در این رابطه احتمال به درازا کشیده ص۳

په بهرني پوځ کې د لېونتوب ...

کرل او یا یې ترسره کولو ته اړویستل شول موږ او تاسې یې په وحشت کې واچولو او دا موضوع له اروايي اړخه د خلکو درک ستونزمنوي، موږ دغه تجربه په ویتنام کې هم وکړه او اوس یې په افغانستان کې هم تکرار کو، نو اړینه ده چې په دې اړه ژور فکر وکړو. په دې ورستیو کې د یو اس اي ټوډې ورځپاڼې یو راپور خپور کړ چې بیا یې د ایران مهر اژانس ځینې برخې راواخیستې چې له تاسو سره به یې د مهر له آژانس څخه په نقل شریکې کړو:

له ۲۰۰۵ ز کاله تر ۲۰۰۹ کاله پورې د رواني اختلالونو له امله په امریکایي پوځیانو کې ٦٤ په سلو کې ډېروالی راغلی، امریکایي پوځیان سره له دې چې له جسمي اړخه په عراق او افغانستان کې ډېر ځورېدلي له رواني ناروغیو سره هم مخامخ شوي، د امریکا پوځ په یوه ریپوټ کې اعلام کړې وه چې په پوځیانو کې د ځانوژنو کچه نظر تېرو ۲٦ کلو ته بې سارې لوړه شوې او له څلورو څخه یو یې په ځان وژنه لاس پورې کوي، په ریپوټ کې همدا شان راځي چې په ۲۰۰٦ ز کال کې ۹۹ تنو پوځیانو ځان وژنه کړې په داسې حال کې چې په ۲۰۰۵ ز کال کې ۸۸ تنو ځانوژنه کړې وه او دا له ۱۹۹۱ ز کال څخه راوروسته تر ټولو لوړه کچه ده.

اسوشیټډپرس د ۱۳۸۸ ل کال په ورستیو کلنو کې یو ریپوټ خپور کړ، چې په یوه برخه کې یې داسې راغلي: د تاوتریخوالي څپو د امریکایي پوځیانو روحیه په شدت کمزورې کړې او د امریکا پوځ پلان لري چې یو شمېر اروپوهان افغانستان ته راولېږي، ځکه چې ډېری هغه پوځیان چې افغانستان ته رالېږل شوي له بیلابیلو رواني ناروغیو ځوریږي او وضعیت یې ډېر ترینګلی اعلام شوی او په څېړنو کې راځي دغه وضعیت په ۲۰۰۷ ز کال کې یو ډول و، خو له ۲۰۰۵ ز کال راهیسې یې دوه برابره شوی، پنتاګون په دې هڅه کې دی چې د هرو ۷۰۰ تنو پوځیانو لپاره یو رواني ډاکټر هم راواستوي، چې له پوځیانو سره یو ځای واوسي خو غوښتنه داوه چې د اروپوهانو شمېر دوه برابره شي.

د فرانسې راډیو د خبر پر بنسټ د امریکا پوځ له یو رواني ناورین سره مخ دی او ددې لامل دادی چې امریکایي پوځیانو خپله روحیه له لاسه ورکړې او په هره حمله او کمین کې بې ساري مرګ ژوبله ور اوړي او دا مرګ ژوبلې هغه هم داسې چې ورځ تر ورځې ډېرېږي د پوځیانو په روحیه اغېزه کوي او له رواني ستونزو سره یې مخامخوي، نژدې شل په سلو کې امریکایي پوځیان په ځانګړې ډول هغوی چې په ټیټه سطحه کې دي او مخامخ له طالبانو سره جنګېږي له اضطراب، ژور خپګان او سترس څخه ځوریږي. په سان فرانسیسکو کې هم یوه څېړنه وایي، چې له افغانستان څخه راستانه شوي امریکایي پوځیان له رواني ناروغیو ځوریږي. د المان د دویچه ولې د یوه ریپوټ پر بنسټ ویل کېږي چې له هغو ۱۰۳ زره او ۷۸۸ پوځیانو څخه، چې له افغانستان او عراق څخه راستانه شوي نژدې ۲۵ په سلو کې په یوه ډول نه په یو ډول له رواني ناروغیو سره لاس او ګرېوان دي. ډاکټر کارن.اچ.سیل، د ارشیف آف انټرنل میډیسن په خپرونه کې لیکي چې زلمي پوځیان هغوی، چې په جګړه کې یې ډېره ونډه اخیستې له نورو ډېر له ګواښ سره مخ دي، د سیل او ټیم دا څېړنه ډېره د ۲۰۰۱ز او ۲۰۰۵زر کلونو تر منځ وه، چې د عراق او افغانستان په جګړو ترسره شوې وه. افغانان وایي چې چې بهرني ځواکونه په افغان ولس د ظلم له لاسه لیونتوب ته رسېدلي. په افغانستان کې عام خلک او کارپوهان وایي چې رواني نامعلومې جګړې ته باید د پای ټکی کېښوول شي، افغان پوځ دې وروزل شي او د ورته پېښو او ناورینونو مخه باید وړاندې له مخه ونیول شي.

منابع:

http://www.news.rahenejatdaily.com/index
http://www.women.gov.ir/pages/?cid=۷۰۰۷
http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=۴۹۵۷\
http://www.taghribnews.ir/vdci.qavct۱a۵۳bc۲t.html
http://tanweer.blogfa.com/post-۴۲.aspx
http://nawaaye-afghanistan.net/spip.php?article٦٨٠٨
http://beta.iribnews.ir/vmk/body.aspx?id=۷۵۸۴۲۹
http://www.khabaronline.ir/news-٦٢٧٤٠.asp
http://larawbar.com/detail.php?id=۱۵۵۰٦

افغان سوداګرو له ایران سره ...

خو افغان سوداګر او چارواکي وایي چې ایران لس تر پنځلس ټانکرونه پرېږدي چې افغانستان ته راواوړي. ایران پر افغانستان د تېلو د ترانزیت غیر رسمي بندیز د دسمبر په لومړیو کې پیل کړ او ویل کېږي چې اوس د ایران په خاوره کې دوه نیم زره ټانکرونه ولاړ دي. د هغو د درېدو له کبله افغان سوداګرو په میلیونونو ډالره تاوان کړی دی. عامو افغانانو هم ډېر اقتصادي تاوان کړی او له همدې کبله خلک ایران ته په غوسه شوي او اوس حتا هغه افغانان هم چې په هرحال به یې د ایران د سیاستونو او ګټو دفاع کوله د ایران دریځ غندي. د تاند د راپور له مخې، یوه افغان سیاسي ګوند د کابل د څه باندې شل زرو اوسېدونکو لاسلیکونه او د ګوتو نښې ټولې کړي او د ایران د بندیز پرضد یې درې سوه متره اوږد اعتراضیه لیک چمتو کړی دی.

د کارپوهانو او شناندو په نظر ایران په دې توګه له یوې خوا له طالبانو سره د سولې له هلو ځلو سره خپل مخالفت ښیي او له بلې خوا د ایران له اتومي پروګرام سره د نړوالې ټولنې د مخالفت په وړاندې عکس العمل ښیي. د دوی په نظر ایران د تېلو د بندیز له لارې خپله سیمه ییزه او نړیواله اجنډا پر مخ بیايي. سیمه ییزه اجنډا یا هدف یې دا دی چې افغانستان له طالبانو سره سوله ونه کړي، په تېره بیا چې په سوله کې د پاکستان مهم رول وي او نړیواله اجنډا یې دا ده چې نړیوالې ټولنې ته ووایي چې که تاسې پر ایران د اتومي پروګرام په خاطر فشار روا ړئ ایران هم په هغه ځای کې نړیوالې ټولنې ته سرخوړی جوړولی شي چې غواړي هلته امن او ثبات راولي. بل لور ته په پکتیکا کې هم خلکو د ایراني توکو د نه کارولو پرېکړه وکړه او په احتجاجي ډول یې د ایران بیرغ وسوځاوه. دا پرېکړه پرون د مرغومې پر ۲۸مه، په ښرنه کې د ایران له لورې د افغاني سوداګرو د تېلو ټانکرونو د بندولو په اړه په احتجاجي غونډه کې وشوه، چې د دغه ولایت د ټولو ولسوالیو شاوخوا ۳۰۰ تنو په کې ګډون کړی و. د پکتیکا د سوداګرو د ټولنې مرستیال ګلزاده حمیدي ته وویل، چې له سوداګرو سره به په همغږۍ دا پرېکړه عملي کوي، چې تر دې وروسته پکتیکا ته ایراني توکي وارد نه کړي. نوموړي د ایران له لورې د افغاني سوداګر د تېلو د موټرونو د رول په کلکه وغندل او ویې ویل، چې په دې سره نه یوازې د تېلو په بیو کې لوړوالی راغلی، بلکې د خوراکي توکو بیې هم پورته شوې دي. د قومونو د همغږۍ شورا مشر ملا محمدمعصوم خیري وویل، چې دغه پرېکړه یې ځکه کړې، چې ایران تل له افغانستان سره منافقانه اعمال کړي دي.

د نوموړي په خبره، افغانان له ګڼو ستونزو سره مخ دي، خو ایران د دې پرځای، چې مرسته ورسره وکړي، په بېلابېلو ډولونو یې ځوروي او نورې ستونزې هم ورته جوړوي. نوموړي د سیمې د قومونو په استازیتوب له دولت او ملي سوداګرو غوښتنه وکړه، چې له دې وروسته په افغانستان کې د ایراني توکیو له کارونې څخه مخنیوی وکړي. د پکتیکا ولایت د ځوانانو د ټولنې مشر بریالی بختیار وایي، چې د سوداګرو او قومي مشرانو پرېکړې د پلې کولو لپاره به ځوانان او هټیوال وهڅوي تر څو د ایراني توکیو له پېر او پلور څخه مخنیوی وکړي. نوموړي له ټولو هېوادوالو غوښتنه وکړه، چې د ایران د ظالمانه کړنو پر ضد په خپلو سیمو کې ورته پرېکړې وکړي. د غونډې په پای کې یادو کسانو په احتجاجي ډول د ایران بیرغ وسوځاوه او د ولایت له ټولو اوسېدونکو یې غوښتنه وکړه، چې یاده پرېکړه پلې کړي.

از دومین سالروز تاسیس مرکز ...

رسانه ها، یک گام مؤثر می باشد. داوود عظیمی یکتن از خبرنگاران رادیو بی بی سی در کابل نیز، فعالیت های مرکز رسانه ها را موثر خواند، اما افزود که هنوز هم رسانه ها با مشکلاتی مواجه اند. وی که به نماینده گی از ژورنالیستان صحبت می کرد، گفت عدم دسترسی مرکز رسانه ها به معلومات های بیشتر و حاضر نشدن مقام های دولتی برای مصاحبه با رسانه های داخلی، مشکلات عمده یی است که فرا روی ژورنالیستان قرار دارد. مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت، در اواخر سال ۲۰۰۸ تاسیس گردیده است. به گفتهٔ مسوولان این مرکز، توزیع و تشریک اطلاعات و تقویت روابط مسلکی و رسانه یی میان ارگان های دولتی و رسانه ها، ظرفیت سازی مسلکی، آگاهی عامه و بررسی و تحلیل رسانه ها، فعالیت های عمدهٔ این مرکز می باشد.

چه وقت می خواهید، به بازی ...

شدن داستان انتخابات در جریان دوسیه سازی های دو ارگان قضایی افغانستان یعنی لوی ځارنوالی و محکمهٔ ویژه انتخابات است. اکنون این دو ارگان باهم متحد شده اند، تا قضیه را به درازا بکشند.

کار رسیده گی به صدها دوسیهٔ چیزی نیست که در ظرف چند روز و چند هفته به اتمام برسد. بنابراین، این جریان ممکن است، هفته ها و حتا ماه ها طول بکشد و مردم افغانستان باید تا اعلام نتایج، تصامیم و داوری های نهایی محکمهٔ ویژه مدت های زیادی صبر پیشه کنند و ببینند این بازی چه وقت و چگونه به پایان می رسد.

له موږ سره چا مرسته نه ده ...

حاجي باز محمد دارغنداب د چهار قلبي اوسېدونکی وايي، چې د ده کور د انګورو تاکونه او نورې په لسګونو ونې له منځه وړل شوي.

د حاجي باز محمد په وینا خلکو ته په میلیونو تاوان رسیدلی او د ولسمشر کرزي له خوا کندهار ته راغلي پلاوی د زیانونو په اړه ښه سروې کړې او د کندهار چارواکي د خپلو ګټو لپاره دا رپور ناسم بولي: (لس واره ورغلی یم ولایت ته تللی یم، هغه مې ولسوالۍ ته واستاوه ولسوالۍ والا وايي، پوستې ته ورشه، د هغوی سره په ژبه نه پوهیږو.)

زلمی دارغنداب ولسوالۍ یو بل اوسېدونکی هم وايي، چې په عملیاتو خلکو ته په زیاته کچه تاوان رسیدلی خو هیچا تر اوسه کومک نه دی کړی: (تاوان بیخي ډېر رسېدلي باغونه خراب شوي، مځکې خرابې شوي، خو د چا سره کومک نه دی شوی، غوښتنه مو داده چې له دې غریبو او بې چاره خلکو سره کومک وشي.)

دارغنداب ولسوالۍ زیانمن کسان په داسې حال کې د دوی ته د اوښتي زیان تاوان غواړي چې د ناټو په مشرۍ د ازادي راډیو د راپور له مخې، نړیوالو ځواکونو د تېرې جمعې پر ورځ وویل، چې دوی په تېرو دوو میاشتو کې د افغانستان په جنوب کې هغو خلکو ته یو میلیون او څلور لکه ډالره تاوان ورکړی، چې په عملیاتو کې یې کورونه یې زیانمن شوي وو.

د هلمند د سیند اوبه دې په ایران ...

چې د ایراني چارواکو د دې کار په غبرګون کې د هلمند د رود هغه اوبه بند کړي، چې دا مهال ایران ترې استفاده کوي.

دغه راز قومي مشرانو د ایراني چارواکو دا ادعا رد کړه، چې ګڼې د ایران څخه افغانستان راتلونکي تیل ایتلافي ځواکونه کاروي.

د دوي په خبره د ایراني چارواکو د دې کار زیان یوازې عامو خلکو ته رسیږي، د کندهار د ولایتي شورا مشر احمدولي کرزی وايي:

(دا د ایران د حکومت دښمني ده له افغانانو سره نه له ناټو سره، ناټو خپل وسایل په ډالرو چلولای شي، دا په ښکاره دښمني ده له فغانانو سره که چېرې ایران له دې کار څخه لاس وا نه خلي، نو د خپل دولت څخه مې غوښتنه داده چې هغه اوبه چې د هلمند څخه ایران ته ځي، بندې کړي.)

د کندهار قومي مشران دغه غوښتنه وروسته له هغه کوي، چې څو ورځې مخکې د کندهار ملي سوداګرو د یوه پریکړې لیک په خپرولو سره وویل، که چېرې ایراني چارواکي په خپله خاوره کې درول شوو ټانکرونه ته اجازه ورنه کړي، نو له دې وروسته به له ایران هېواد سره هر ډول راکړې ورکړې پرېکړي کړي.

په بهرني پوځ کې د لېونتوب څپې

شرف الدین عظیمی

پر نیویارک او واشنګټن د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر د ۱۱ له بریدونو وروسته د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش طالب چارواکو ته وویل چې د القاعدې تروریستي ډله له افغانستانه وشړي° خو طالبانو د یوې شورا له جوړولو وروسته امریکا ته وویل، چې اسامه بن لادن او هغه پورې تړلې ډله زموږ مېلمانه دي او موږ هغه پرته له خپلې خوښې نه شو شړلی، موږ چمتو نه یو چې د خپل دودا و دستور په خلاف میلمه له کوره وباسو. د امریکا دغه ځواب سره سم د (۲۰۰۱)ز کال د اکتوبر په ۷ نېټه پر افغانستان د یرغل امر وکړ او له همدې امره یوه میاشت وروسته د طالبانو واکمني ړنګه شوه او د المان هېواد په بن کې د یوه کنفرانس په لړ کې حامد کرزي ته د واک پر ګدۍ کیناست چې بیا وروسته د ټولټاکنو له لارې د افغانستان ټاکل شوی ولسمشر د بهرنیانو څولومړي کلونه په ارامۍ سره تېر شول، بیا رغونه پیل شوه، خو د بهرنیانو بمباریو، پلټنو، زندانونو ته د ځینو بیګناه افغانانو ورتیل وهلو، د ځینو پخوانیو قدرت طلبو او زورواکو په څوکیو کېنول او ځینې نورې دسیسې ددې لامل شوې، چې ورو-ورو د افغان دولت او خلکو تر منځ واټن پیدا او ډېر شي. بهرنیانو ته ورځ په ورځ کلي او باندې په شکونو او دردونو بدلېدې او دې ته یې اړویستل، چې خپل ځواکونه ډېر او بمباریو او پلټنو ته زور ور کړي، دغه وضعیت تر ننه روان دی او څو ځله داسې پېښې رامنځ ته شوې، چې په سلګونو بېګناه او ملکي افغانان، چې ډېری یې ماشومان او ښځې وې شهېدان شول او تر داننه پورې یې هیڅ کوم شخص، اداري او دولت په رښتوني ډول پوښتنه ونه کړه.

کله چې د (۲۰۰۱)ز کال د اکتوبر په ۷ نېټه د امریکا په افغانستان کې جګړه پیل کړ، له هغه مهاله تر ننه په افغانستان باندې د ۱۲۰۰۰ بمونو نه زیات غورځول شوي دي. د پنټګان له ویناسره سم، د دغو بمونو نېږدې ٪۶۰ د سټلایټ یا د لایزر ټکنالوژۍ په واسطه په کره توګه هدایت شوي دي. په هر حال، د دغو بمونو ډېری برخه د B۵۲ او نورو الوتکو په واسطه له زرګونه فوټوته لوړوالي نه راګذار شوي - بې هدفه شوي - او عام وګړي یې هدف ګرځېدلي دي.

(WSWS د ۲۰۰۱ز کال د دسامبر په ۲۹ مه) د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر له ۱۱ څخه یو کال وروسته په یوه بل راپور کې چې د اسوشېټېډ پریس له لوري د Mtt Kelly په واسطه خپور شوی و، د متحدو ایالاتو د جنګي تجهیزاتو احصایه یې په لاندې ډول وړاندې کړې وه:

امریکایي او ایتلافي ځواکونو پر افغانستان د ۲۱۰۰۰ څخه ډېرې الوتنې کړې دي، د ۲۰۰۰۰ څخه زیات تجهیزات یې ښکته کړي دي. د دغو غورځونو٪ ۶۰ د سټلایټ او یا د لایزر د ټکنالوژۍ په واسطه کره هدایت شوي دي، چې دا په ټولو جګړو کې لوړه سلنه ده.

د ۲۰۰۱ز کال د اپریل په ۱۰ ګارډین هم همداډول راپور خپور کړی وو:

د ۲۲۰۰۰ زرو نه زیاتې وسلې چې کروز توغندي - درانه تیلي هوایي بمونه هم په کې شامل وو، پر افغانستان راګذار شوي دي... امریکایي پیلوټانو د ۶۶۰۰ نه زیات د مستقیمې جګړې وسلې J-dams، د سټلایټ په وسیله هدایت شوي بمونه او داسې نور راغورځولي دي. دا حالت ددې لامل شو، چې ځینې بهرني ځواکونه هم خپل غړي له لاسه ورکړي او هم له بیلا بیلو ستونزو سره مخامخ شي، په رسنیو کې راز راز خبرونه او ریپوټونه اورو او ګورو خوله کومه چې اوریدل کېږي ښیي چې نژدې ۵۰ په سلو کې امریکایي پوځیان له روانې ناروغیو سره مخامخ شوي او دا ناروغي په چټکۍ سره په امریکایي پوځیانو کې د خپرېدو په حال کې ده او د ځان وژنو ډېر رپوټونه تر اوسه په دې اړه خپاره شوي.

په افغانستان کې د اوباما د ادارې د منتظرې پرېکړې نوې ستراتیژۍ ته په پام سره په افغانستان کې حالات تر دې حده پورې خراب شوي چې اوس د امریکا نظامي قومندانان د ماتې کلیمه واشنګټن ته په خپلو راپورونو کې کاروي، د ماتې کلیمه د پوځ په واسطه په نادره توګه کارول کېږي؛ په هر حال، افغانستان یوه استثنا ده.

په دې ورستیو کې د کلمبیا پوهنتون رئیس جفري لیبرمن د فاکس ټلویزیوني شبکې ته په یوه مرکه کې وویل چې د ۲۰۰۹ز کال له اپریل څخه د ۲۰۱۰ز کال تر مارچ پورې اروایي اسانتیاوو ته د امریکایي ځواکونو په غوښتنو کې ۴۷ په سلو کې زیاتوالی راغلی، د بیلابیلو هېوادونو په وګړیو کې روانې ناروغۍ لیدل کېږي، خو په امریکا کې یې کچه نظر نورو هېوادونو ته ډېره ده، ژور خپګان، شیزوفرني، الزایمر، روږتیا او سترس (فشار) هغه ناروغۍ دي، چې خلک ارواپوهانو او روانې ډاکټرانو ته په تللو سره اړباسي، په امریکا کې له هرو څلور او پنځو تنو څخه یو تن په خپل ژوند له یادو ناروغیو څخه په یوه اوړي. په واقعیت کې ۲۰ په سلو کې امریکایان له روانې ناروغیو سره لاس او ګرېوان دي. څېړنې څرګندوي، چې نژدې ۲۶ په سلو کې امریکایان له پېژندل شویو روانې ناروغیو څخه ځوریږي. لیبرمن وایي: تېر کال ۳ سوه زره هغه امریکایي پوځیان چې له جګړې بېرته راستانه شوي وه د ځینو روانې ناروغیو له امله روانې ډاکټرانو ته راغلي او له درملنې لاندې نیول شوي.



د امریکایي پوځیانو دادی ۹ کاله په افغانستان کې تېرېږي او ارواپوهان وایي، چې په افغانستان کې نامعلومه جګړه او د هغې دوام او د پوځیانو د شمېر ډېرول او بیا بیا افغانستان ته لېږل ددې لامل شوي، چې امریکایي پوځ کې د ځان وژنو شمېر ډېر کړي.

په همدې اړوند په واشنګټن کې د سولې د فعالانو د سازمان مدیر پاول کاویکا مارتین له پریس ټلویزیوني شبکې سره د ځان وژنو د لاملونو په اړوند په یوه مرکه کې وویل:

کله چې امریکایي پوځیان خپل هېواد ته راګرځي هېڅ راز ملاتړ نه ترې تر سره کېږي په داسې حال کې چې یاد پوځیان له رواني اړخه ستونزې لري او باید چې ملاتړ او لاسنیوی یې وشي. ډېری هغه ځوانان چې پوځ ته ځي په دې نه پوهېږي، چې چېرته ځي او د څومره مودې له پاره به هلته وي.

امریکا په افغانستان کې خپل ماموریت د تل لپاره غځوي او پوځیان بایدد ډېر وخت لپاره په جګړه کې پاتې شي او په داسې یوه حالت کې هیڅ څوک نشي کولای له روانې ناروغیو سترګې پټې کړي، په ځانګړې ډول په هغو پوځیانو کې چې په ټوله کې د روانې جګړې د غځولو له سیاست سره چې جنګېږي مخالف دي، ډېر هغه امریکایي پوځیان چې په عراق کې جنګېدل او یا اوس په افغانستان کې جنګېږي د یادو هېوادونو په وړاندې د واشنګټن له سیاستونو سره موافق نه دي، نو له دې امله سخته ده، چې ځان له داسې سیاستونو سره همغږي کړي.

ویل کېږي چې ښایي له عراقه وتلو په دې برخه کې ځینې هیلې راژوندۍ کړې وي او کیدای شي تر یوه حده د روانې ناروغیو کچه راټیټه شي.

مارتین پرس تلویزیون ته همدا راز وویل: هغه څه، چې امریکایي پوځیانو په عراق او افغانستان کې ترسره ۳ مخ

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده یازدهم : ۲- به منظور جلوگیری از اعمال تبعیضات علیه زنان به هنگام ازدواج و بارداری و تضمین حق مسلم آنان جهت کار، دول عضو اقدامات زیر را بعمل خواهند آورد:

الف: ممنوعیت اخراج به دلیل بارداری یا مریضی زایمان و تبعیض در اخراج بر اساس وضعیت زنا شویی که در غیر اینصورت مشمول تحمیل مجازات میشود.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com